لوړو زده کړو وزارت

تابش پوهنتـــــون

څېړنو او علمي مجلو معاونیت

# علمي څېړونکو د تشویق او ترغیب کړنلاره

کال:۱۴۰۴

بسم الله الرحمن الرحيم

# فهرست

سریزه 4
الف: طرزالعمل اهمیت ........................................................................................ 4
ب: فعلي وضعیت ........................................................................................ 4
۱ .د ضعف نقطې ........................................................................................ 5
۲ .د قوت نقطې ........................................................................................ 5
ج: د علمي څېړونکو د تشویق او ترغیب کړنلارې لرلید(Vision) ........................................................ 6
د: د علمي څېړونکو د تشویق او ترغیب کړنلارې ماموریت(Mission) ................................................... 6
هـ: متوقع پایلې ........................................................................................ 6
لومړی ماده: مبنی 6
دویمه ماده: موخې ........................................................................................ 7
دریمه ماده: د پوهنتون مکلفیتونه ........................................................................................ 7
څلورمه ماده: د څېړونکي استاد مکلفیتونه------------------------------------ 8
دویم فصل 8
پنځمه ماده: په پوهنځیو کې د څېړونکو محصلانو ملاتړ او تشویق 8
شپږمه ماده: تصویب او اجراء 9

## سریزه

پوهنتونونه د علم، څېړنې او نوښت مهم علمي بنسټونه دي چې د ټولنې د علمي، فرهنګي او پرمختیایي اړتیاوو د پوره کولو لپاره اغېزمن رول ترسره کوي. په دغو بنسټونو کې علمي څېړنه د تدریس تر څنګ د علمي کادر غړو له اساسي او مهمو مسؤلیتونو څخه شمېرل کېږي، ځکه د معیاري تدریس بنسټ پر علمي څېړنو او نوو علمي موندنو ولاړ وي. د علمي څېړنو پراختیا نه یوازې د پوهنتون علمي اعتبار لوړوي، بلکې د ټولنې د ستونزو د حل، علمي پرمختګ او نوښتونو د رامنځته کېدو لپاره هم اساسي زمینه برابروي. د لوړو زده کړو وزارت د نافذه لوایحو، مقرراتو او علمي پالیسو په رڼا کې او د تابش پوهنتون د څېړنیزو فعالیتونو د پیاوړتیا، انسجام او ودې په موخه، د پوهنتون مرکزي څېړنو آمریت اړین وګڼله چې د علمي څېړونکو د هڅونې، ملاتړ او تشویق لپاره ځانګړې کړنلاره جوړه او د علمي شورا له تصویب وروسته عملي شي. په پوهنتون کې د علمي څېړنو د کمیت او کیفیت محدودیت، د څېړنیزو امکاناتو کمښت، د څېړنیزو میتودونو سره د ځینو استادانو محدوده بلدتیا، او د څېړنیزو لاسته راوړنو د مناسبې ارزونې او تشویق نشتوالی هغه مهم عوامل دي چې د دې کړنلارې د جوړېدو اړتیا یې رامنځته کړې ده. دا کړنلاره هڅه کوي څو د علمي څېړونکو د مادي او معنوي ملاتړ، د علمي اثارو د ارزونې، او د غوره څېړنو د ستاینې له لارې د څېړنې فرهنګ لا پیاوړی او معیاري کړي.

د دې کړنلارې له مخې به د علمي کادر غړي او څېړونکي وهڅول شي چې د معیاري، نوښتګرو او ټولنې‌محوره څېړنو ترسره کولو ته لا ډېره پاملرنه وکړي، خپل علمي ظرفیتونه لوړ کړي او د ملي او نړیوالو علمي معیارونو مطابق علمي تولیدات وړاندې کړي. همدارنګه، دا کړنلاره به د پوهنتون د ستراتیژیکو موخو، د علمي پرمختګ او د لوړو زده کړو وزارت د علمي پالیسو په عملي کولو کې اغېزمن رول ولوبوي.

**الف: طرزالعمل اهمیت**

علمي څېړنه د هر علمي او اکاډمیک بنسټ، په ځانګړي ډول د پوهنتونونو، له اساسي او حیاتي دندو څخه شمېرل کېږي. پوهنتون هغه مهال خپل حقیقي رسالت ترسره کولای شي چې د تدریس تر څنګ د معیاري او اغېزمنو څېړنو فرهنګ هم پکې وده وکړي، ځکه له څېړنې پرته د پوهنتون علمي هویت او اصلي مسؤلیت نیمګړی پاتې کېږي. همدارنګه، د ټولنې علمي، اقتصادي او ټولنیز پرمختګ تر ډېره د همغه ټولنې د علمي څېړنو په کیفیت، کمیت او اغېزمنتیا پورې تړاو لري.

نن ورځ د نړۍ پرمختللي ټولنې د څېړنو ارزښت ته په کتو، د خپلو ملي بودیجو ځانګړې برخه د علمي او څېړنیزو فعالیتونو لپاره ځانګړې کوي، ترڅو علمي بنسټونه او څېړنیز مراکز وکولای شي انفرادي او ګډې څېړنې په ملي او نړیواله کچه ترسره کړي. د دغو څېړنو له لارې ستونزې په علمي ډول تشخیصېږي، فرصتونه ارزول کېږي او د حل لپاره مناسبې علمي لارې چارې وړاندې کېږي، چې پایله یې د ټولنې پرمختګ، نوښت، اسانتیاوو رامنځته کېدل او دوامدار علمي رشد دی.

له همدې امله، د علمي څېړونکو د هڅونې او ملاتړ لپاره د واضحې او منظمې کړنلارې موجودیت اړین ګڼل کېږي، څو د پوهنتون علمي کادرونه او څېړونکي د معیاري، نوښتګرو او ټولنې‌محوره څېړنو ترسره کولو ته وهڅول شي. د تشویق او ترغیب دغه کړنلاره به د څېړنیزو فعالیتونو د کیفیت لوړولو، د علمي تولیداتو د زیاتوالي، د علمي سیالۍ د روحیې پیاوړتیا او د څېړنیز فرهنګ د ودې په برخه کې مهم او اغېزمن رول ولوبوي.

**ب: فعلي وضعیت**

امنیت، سوله او ثبات د هرې ټولنې د علمي، اقتصادي او ټولنیز پرمختګ اساسي شرطونه ګڼل کېږي، ځکه پرته له امن او ثبات څخه د علمي او څېړنیزو فعالیتونو دوام او پراختیا ستونزمنه وي. له بده مرغه، افغانستان د څو لسیزو جګړو،

بې‌ثباتۍ او سیاسي تحولاتو له امله د ژوند د نورو برخو ترڅنګ په علمي او څېړنیز بهیر کې هم له جدي ستونزو او زیانونو سره مخ شوی دی. دغو شرایطو د علمي بنسټونو ظرفیتونه محدود کړي، د څېړنیزو امکاناتو د کمښت لامل شوي او د علمي تولیداتو پر کمیت او کیفیت یې منفي اغېزې پرې ایښې دي.

سره له دې، په وروستیو کلونو کې د هېواد د علمي او تحصیلي بنسټونو د پیاوړتیا لپاره یو شمېر مثبت فرصتونه او هڅې رامنځته شوې دي. د علمي کادرونو د ظرفیت لوړولو، د پوهنتونونو د زیربناوو د احیا او پراختیا، د څېړنیزو فعالیتونو د ودې، د تعلیمي نصاب د ارزونې او نوي کولو، او د پوهنتوني نظام د انکشاف په برخو کې د پام وړ اقدامات ترسره شوي دي. همدارنګه، د علمي څېړنو ارزښت ته د پاملرنې کچه نسبتاً لوړه شوې او د استادانو او محصلینو ترمنځ د څېړنیز فکر د پیاوړتیا هڅې روانې دي.

خو سره له دې پرمختګونو، لا هم ګڼې ننګونې موجودې دي؛ لکه د څېړنیزو امکاناتو محدودیت، د مالي ملاتړ کمښت، د معیاري څېړنیزو منابعو نشتوالی، د علمي څېړنو د تشویق کمزوری سیستم، او د ځینو استادانو د څېړنیزو مهارتونو محدودیت. له همدې امله، اړتیا لیدل کېږي چې د علمي څېړونکو د تشویق او ترغیب لپاره منظمې او عملي کړنلارې رامنځته شي، څو د پوهنتون په کچه د څېړنې فرهنګ لا پیاوړی، اغېزمن او دوامدار شي.

د هرې ټولنې د رشد او پرمختګ لپاره امنیت، سوله او ثبات یو اساسي شرط دی خو له بده مرغه په افغانستان کې لسګونه کلونو جګړې هرې برخې ته د ستر زیان اړولو تر څنګ په علمي او څېړنیز بهیر هم اغیز غورځولی دی. د کلونو جګړو د ورانیو او بدبختیو د جبران په موخه په تیرو څو کلونو کې ښه فرصتونه رامینځته شوي دي. د استادانو د ظرفیت لوړولو، زیربناوو احیا او انکشاف، د علمي څېړنو رشد او انکشاف، د تعلیمي نصاب نوې ارزونې او تجدید او پوهنتوني انکشاف په برخه کې ډیر کارونه تر سره شوي دي چې لا تر اوسه بسنه نه کوي.

**۱ .د ضعف نقطې**

د علمي څېړنو په برخه کې لا هم یو شمېر اساسي ستونزې او محدودیتونه موجود دي چې د څېړنیزو فعالیتونو د ودې او پراختیا پر وړاندې خنډونه رامنځته کوي. د علمي څېړنو له میتودونو او اصولو سره د ځینو استادانو محدوده بلدتیا، د څېړنیزو اسانتیاوو او امکاناتو کمښت، په ځینو تحصیلي بنسټونو کې د معیاري علمي منابعو نشتوالی یا محدود شتون، او له علمي څېړنو سره د یو شمېر استادانو کمه لېوالتیا د دغو ضعفونو مهم عوامل ګڼل کېږي. همدارنګه، د عادي بودیجې په چوکاټ کې د علمي څېړنو لپاره د کافي مالي ملاتړ نشتوالی د څېړنیزو پروژو د عملي کېدو او پرمختګ پر وړاندې جدي خنډ بلل کېږي.

په همدې ډول، د پوهنتونونو او علمي بنسټونو ترمنځ د علمي او مسلکي همکاریو کمزوري، د ترسره شویو علمي څېړنو له پایلو څخه نه اغېزمنه استفاده، او د ټولنې د ستونزو د حل لپاره د علمي څېړنو د ارزښت په اړه د پوهاوي کموالی هغه نور عوامل دي چې د څېړنیز بهیر د پیاوړتیا مخه نیسي. دغه نیمګړتیاوې د دې اړتیا څرګندونه کوي چې د څېړنیزو فعالیتونو د تشویق، ملاتړ او انسجام لپاره اغېزمنې کړنلارې او دوامدار پروګرامونه رامنځته شي.

**۲ .د قوت نقطې**

سره له شته ستونزو، په هېواد او په ځانګړي ډول په ځینو پوهنتونونو کې د علمي څېړنو د پراختیا لپاره مناسب ظرفیتونه او فرصتونه هم موجود دي. د لوړو تحصیلي درجو لرونکو او مجربو استادانو شتون، د علمي څېړنو د مرکزونو او بنسټیزو زیربناوو رامنځته کېدل، او معلوماتي ټکنالوژۍ او انټرنېټ ته نسبتاً اسانه لاسرسی د علمي څېړنو په برخه کې مهمې د قوت نقطې ګڼل کېږي. دغه امکانات کولای شي د معیاري او اغېزمنو څېړنو لپاره ښه زمینه برابره کړي.

په تابش پوهنتون کې د علمي څېړنو د انسجام لپاره د ځانګړي مرکز شتون او د څېړنیزو فعالیتونو لپاره د جلا بودیجې ځانګړې کول د دې سبب ګرځي چې استادان او څېړونکي وکولای شي له شته امکاناتو څخه اغېزمنه استفاده وکړي. همدارنګه، د څېړنیزو فعالیتونو د تشویق او ملاتړ له لارې به د علمي کادر غړو ترمنځ د څېړنې فرهنګ لا پیاوړی شي او هڅوی به وکولای شي د ټولنې د علمي او څېړنیزو اړتیاوو د پوره کولو لپاره لا اغېزمن او دوامدار فعالیتونه ترسره کړي.

**ج: د علمي څېړونکو د تشويق او ترغيب کړنلارې لرليد(Vision)**

په تابش پوهنتون کې د داسې معياري او اغېزمن څېړنيز چاپېريال رامنځته کول چې علمي کادر غړي، څېړونکي او محصلان د علمي څېړنو، نوښتونو او علمي توليداتو ترسره کولو ته وهڅول شي او پوهنتون په ملي او سيمه‌ييزه کچه د علمي او څېړنيز اعتبار لرونکي بنسټ په توګه وځلېږي.

**د: د علمي څېړونکو د تشويق او ترغيب کړنلارې ماموريت(Mission)**

د تابش پوهنتون د څېړنو او علمي مجلو معاونيت ماموريت دا دی چې د علمي څېړونکو لپاره د مناسبې تشويقي او حمايوي فضا په رامنځته کولو سره د معياري او نوښتګرو علمي څېړنو زمينه برابره کړي، ترڅو د علمي کادر غړي او څېړونکي د علمي توليداتو، څېړنيزو فعاليتونو او ټولنيزمحوره څېړنو ترسره کولو ته لا زيات وهڅول شي.

د دې کړنلارې اساسي موخې په لاندې ډول دي:

١ -د علمي څېړونکو د تشويق او ترغيب له لارې د څېړنيزو فعاليتونو پياوړتيا او پراختيا

٢ -د علمي کادر غړو لپاره د څېړنيزو امکاناتو، اسانتياوو او مناسب ملاتړ برابرول

٣ -د غوره علمي څېړنو، مقالو او علمي لاسته راوړنو ستاينه او ارزونه

٤ -له ملي او نړيوالو علمي او څېړنيزو بنسټونو سره د علمي او مسلکي همکاريو پراختيا

٥ -د ټولنې د ستونزو او اړتياوو د حل لپاره د اغېزمنو او معياري څېړنو ترسره کولو ته زمينه برابرول

٦ -په پوهنتون کې د څېړنې فرهنګ، علمي سيالۍ او نوښت روحيې پياوړتيا

**هـ: متوقع پايلې**

١ -د علمي څېړونکو د تشويق او ملاتړ له امله به د معياري علمي څېړنو، مقالو او علمي توليداتو کميت او کيفيت لوړ شي.

٢ -استادان، محصلان او نور څېړونکي به د علمي څېړنو ترسره کولو ته لا زياته لېوالتيا پيدا کړي او په پوهنتون کې به د څېړنې فرهنګ پياوړی شي.

٣ -د علمي څېړنو د پايلو له لارې به د هېواد او ټولنې علمي، اقتصادي، ټولنيزې او فرهنګي ستونزې په علمي ډول تشخيص او د حل مناسبې لارې چارې به ورته وړاندې شي.

٤ -د څېړنيزو پروژو او علمي همکاريو له لارې به د پوهنتون علمي اعتبار او اکاډميک موقعيت لا پياوړی شي.

٥ -د علمي او څېړنيزو فعاليتونو د پراختيا له امله به د مالي سرچينو د جذب زمينه برابره او د تابش پوهنتون په عايداتو کې به زياتوالی رامنځته شي.

٦ -د ملي او نړيوالو علمي مرکزونو او بنسټونو سره به د علمي همکاريو او تجربو د تبادلې زمينه پراخه شي.

## لومړی فصل
## عمومي احکام

لومړۍ ماده: مبنی

د علمي څېړونکو د تشويق او ترغيب کړنلاره د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت د کيفيت تضمين او اعتبار ورکونې د شپږم اصلي معيار، د همدې معيار د څلورم فرعي معيار، دريیم شاخص او (١٧٦) موارد پر بنسټ ترتيب او تدوين شوې

ده، ترخو په تابش پوهنتون کې د علمي څېړنو د پیاوړتیا، د څېړنیز فرهنګ د ودې، د علمي کادر غړو د هڅونې او د معیاري علمي فعالیتونو د انسجام لپاره اغېزمنه او منظم چوکاټ رامنځته کړي.

**دویمه ماده: موخې**

د علمي څېړونکو د تشویق او ترغیب د دې کړنلارې موخې عبارت دي له:

۱ -د ټولنې هغو علمي، اقتصادي، ټولنیزو او تخنیکي ستونزو ته د حل مناسبې لارې چارې موندل چې د معاصرې ټکنالوژۍ، ټولنیزو بدلونونو او نورو عواملو له امله رامنځته کېږي.

۲ -د علمي کادر غړو د څېړنیزو ظرفیتونو پیاوړتیا او د هغوی سنبالول له ملي، سیمه‌ییزو او نړیوالو معیارونو سره سم، ترڅو وکولای شي هدفمندې، معیاري او د هېواد اړتیاوو ته مطابق څېړنې ترسره کړي.

۳ -د علمي څېړنو د ترسره کولو لپاره د استادانو او محصلینو مادي او معنوي ملاتړ، او د لازمو علمي او څېړنیزو اسانتیاوو برابرول.

۴ -د ټولنې د علمي، اقتصادي، مسلکي او ټولنیز پرمختګ په موخه له علمي څېړنو څخه د ترلاسه شویو پایلو اغېزمنه استفاده.

۵ -له علمي څېړنیزو مرکزونو، اکاډمیکو بنسټونو او هغو ادارو سره چې علمي او څېړنیزې برنامې لري، د همغږۍ، همکاریو او علمي اړیکو پیاوړتیا.

٦ -د پوهنتون د ځان بسیاینې او علمي پراختیا په موخه د مالي سرچینو تقویه، جذب او تأمین.

۷ -د وخت او اړتیاوو مطابق د مناسب، اغېزمن او معیاري څېړنیز چاپېریال رامنځته کول او په پوهنتون کې د علمي څېړنو فرهنګ ته وده ورکول.

**درېیمه ماده: د پوهنتون مکلفیتونه**

۱ -پوهنتون مکلف دی چې د اړتیا په صورت کې څېړونکو ته د علمي څېړنو د ترسره کولو په جریان کې لازمې اسانتیاوې، امکانات او همکارۍ برابرې کړي.

۲ -ټول هغه لګښتونه چې د څېړنې د ترسره کولو پر مهال د څېړونکي له لوري د قانوني اسنادو او شواهدو پر بنسټ ترسره کېږي، د څېړنیز مرکز له طی مراحلو وروسته د مالي او اداري چارو معاونیت له لوري اړوند استاد ته تادیه کېږي.

۳ -په ملي او نړیوالو معتبرو علمي ژورنالونو کې د استادانو د علمي مقالو د خپرولو لګښتونه تر (۱۵۰) امریکایي ډالرو پورې د پوهنتون له بودیجې څخه ورکول کېږي.

۴ -د تابش پوهنتون د دایمي او قراردادي استادانو له لوري د تابش پوهنتون په نوم د علمي مقالو د نشر په صورت کې، او د اړوندو معیاري اسنادو له سپارلو وروسته، د پوهنتون د ټاکل شوي تشویقي جدول مطابق مادي امتیازات او تشویقي حقونه ورکول کېږي.

| ګڼه | مقالې نوعیت | د ژورنال نوعیت | حق الزحمې اندازه |
|---|---|---|---|
| ۱ | کتابتوني مقاله(Review Article) | ملي رسمي جواز لرونکې مجله | ۲۰۰۰ افغاني |
| ۲ | څېړنېزه مقاله | ملي جواز لرونکې معتبره مجله | ۴۰۰۰ افغانۍ |
| ۳ | کتابتوني مقاله (Review Article) | نړیوال معتبر ژورنال | ۲۵۰۰ افغانۍ |
| ۴ | څېړنیزه مقاله | نړیوال معتبر ژورنال | ۵۰۰۰ افغانۍ |

1. که علمي مقاله یا څېړنه کې د تابش پوهنتون دوه یا درې تنو استادان سهیم ول، د ورکړل شوي مقدار نغدي پیسو لومړي لیکوال ته ٦۰٪ سلنه او دویم ته ۴۰٪ سلنه ورکول کېږي. که استادان درې تنه وي، لومړي لیکوال ته ۴۰٪ او دویم او درېیم ته ۳۰٪ سلنه ورکول کېږي.
2. که په څېړنه کې بهرنی استاد (شخص) دخیل و، په نړیوال یا ملي ژورنال کې د خپرېدو له فیس څخه د ۵۰ سلنه په ورکړې مکلف دی او حق الزحمې مستحق نه ګڼل کیږي.
3. د علمي او څېړنیزو چارو د سرعت او دقت په موخه اداره خپل ټولو مسؤلیتونه په ټاکلي وخت ترسره کوي.

4. کله چې د څېړنو امریت د څېړنې د نشر مصارف او یا هم د نشر شوې څېړنې حق الزحمې تادیه کول غواړې نو مکلفیت لري چې ټول اړونده لازم اسناد ترلاسه او یایې تنظیم کړي او بیا د رسمي او معیاري وړاندیز ترتیب ریاست مقام ته د ضمایمو سره وړاندې کوي د ریاست مقام له منظورۍ وروسته مالي او اداري چارو معاونیت یې د څېړنو امریت سره په هماهنگي تادیه کوي.

خلورمه ماده: د څېړونکي استاد مکلفیتونه

1. څېړونکی استاد مکلف دی د علمي څېړنې پالسۍ سره سم خپله څېړنه پیل کړي.
2. په هره میاشت کې باید څېرونکی د اړوند پوهنځې علمي څېړنو کمیټې ته د څېړنیزو فعالیتونو راپور وړاندې کړي.
3. که چیرته څېرونکی د څېړنې په جریان کې د ستونزو سره مخ کیږي یا دا چې وړاندیزونه ولري؛ نو باید د پوهنځي د علمي څېړنو کمیټې سره یې شریک کړي.
4. څېړونکی استاد مکلفیت لري چې خپل څېړنه د تابش پوهنتون د استاد تر عنوان لاندې نشر کړي او د ژوند تر پایه یې د بل پوهنتون په نوم نه شي تغیرولی.
5. د څېړنې د بشپړیدو څخه وروسته څېرونکې باید خپله تر سره شوې څېړنه د اړونده پوهنځي د څېړنو کمیټې او یا د څېړنې معاونیت له طریق اړونده خواوو سره شریکه کړي.
6. هر استاد مکلفیت لري چې د خپل مسلک او تخصص په پام کې نیولو سره حد اقل کال کې یوه څېړنه ترسره کړي.
7. څېړونکی استاد مکلفیت لري چې د خپلې څېړنې پایلې د مقالې اړونده کنفرانسونو ( ملي او نړیوال) یا اړونده اداراتو او یا هم پوهنتون په داخلي د علمي کنفرانس تر عنوان لاتدې محصلینو او استادانو سره شریک کړي.
8. استاد به کوښښ کوي چې خپل مقالې د نشر کیدونکې ژونال د اعتبار او حیثیت په اړه پوره اطمنان ترلاسه کړي.

دویم فصل

پنځمه ماده: په پوهنځیو کې د څېړونکو محصلانو ملاتړ او تشویق

د پوهنتونونو په علمي چاپېریال کې د څېړنو ترسره کول د پوهې د ودې، د ستونزو د حل او د علمي کچې د لوړوالي لپاره اساسي ارزښت لري. له همدې امله د څېړونکو محصلانو ملاتړ او تشویق د لوړو زده‌کړو د بنسټیزو مسؤلیتونو له ډلې څخه گڼل کېږي. دا ملاتړ باید څو اړخیز وي، تر څو محصلان وکولای شي په اغېزمن ډول علمي څېړنې ترسره کړ

۱ .علمي او اکادمیک ملاتړ

پوهنځي باید محصلانو ته د څېړنې په برخه کې منظم لارښود استادان (Supervisors) وټاکي، څو هغوی ته د موضوع انتخاب، د څېړنې میتودولوژي، د معلوماتو راټولولو او تحلیل په برخه کې لارښوونه وکړي. همدارنګه د څېړنیزو مهارتونو د پیاوړتیا لپاره د ورکشاپونو او سیمینارونو جوړول مهم دي.

۲ .د معلوماتو او سرچینو برابرول

کتابتونونه باید له معیاري کتابونو، علمي مجلو، ډیجیټل سرچینو او ډېټابېسونو سره مجهز وي. محصلانو ته باید د انټرنېټي سرچینو، علمي ژورنالونو او څېړنیزو مقالو ته د لاسرسي آسانتیاوې برابرې شي، تر څو د دوی څېړنې پر قوي علمي بنسټ ولاړې وي.

۳ .مالي او تخنیکي ملاتړ

د څېړنو د ترسره کولو لپاره د لابراتوارونو، سافټویرونو او تخنیکي وسایلو برابرول اړین دي. همدارنګه د غوره څېړنیزو پروژو لپاره د کوچنیو تحقیقاتي بودیجو (Research Grants) ورکول کولای شي محصلان لا ډېر تشویق کړي.

۴ .تشویقي میکانیزمونه

پوهنځي باید د غوره څېړنو لپاره جایزې، تقدیرنامې او علمي امتیازات ورکړي. د محصلانو د څېړنو خپرول په علمي مجلو کې او د هغوی نوم یادول د هغوی د هڅونې لپاره مهم رول لري.

۵ .د علمي چاپېریال جوړول

یو سالم علمي چاپېریال چې پکې بحثونه، علمي ناستې او د څېړنو وړاندې کول ترسره کېږي، محصلان دې ته هڅوي چې فعال ګډون وکړي او د څېړنې فرهنګ پیاوړی کړي.

٦. ستاینلیکونه او سکالرشېپونه ورکول

د څېړونکو محصلانو د ملاتړ او تشویق په برخه کې د ستاینلیکونو او سکالرشېپونو ورکول یو اغېزمن او عملي میکانیزم ګڼل کېږي، چې کولی شي د محصلانو علمي هڅې لا پیاوړې کړي او د څېړنې فرهنګ ته وده ورکړي.

شپږمه ماده: تصویب او اجراء

د تابش پوهنتون د علمي څېړونکو د تشویق او ترغیب کړنلاره چې په (دوه فصله) او (شپږو مادو) کې ترتیب شوې ده، د پوهنتون د ۱۴۰۵ کال د (۲) ګڼې عادی علمي شورا په غونډه کې چې د (۱۴۰۵/۰۲/۲۹) نېټې په ورځ دایره شوې وه، تر هر اړخیز بحث او ارزونې وروسته د غړو د رایو په اتفاق تصویب او د اجرا وړ وګرځېده.

**پوهنیار دوکتور عبدالحمید سیرت**

**تابش پوهنتون رئیس**